# ښاری پراختیا او د ښارولۍ بیخبنا

## ښاری پراختیا او د ښارولۍ بیخبنا

افغانستان په چټکۍ سره په زیاتیدونکي ډول په یوه ښاري هیواد بانديږ د بدليدلو په حال کې دی. د نورو لاملونو په منځ کې، دا کار د نفوسو د پیاوړې ودې او ښارونو ته د کورني بېځایه شویو او د ګاونډیو هیوادونو څخه د راستیدونکو د راتګ له کبله دی. دا خبره په ځانګړې توګه د هیواد په پلازمیني کابل کې چې په نړۍ کې د ودې یو له تر ټولو لوړې کچې لرونکی ښار ګڼل کیږي صدق کوي. لکه څنګه چې ښارونه مناسب اداري ظرفیت نلري، د پام وړ پرمختیاوو سره سره، دوی نشي کولای مناسب عامه خدمتونه او بنسټیز زیربناوې چمتو کړي. همدارنګه، د ښاري پلان جوړوني اغیزمنتیا هم ډیر لږ ده.

له همدې کبله، د افغانستان په وړاندې د آلمان د اقتصادي همکاریو او پراختیا د وزارت (BMZ) د دریځ په سند کې چې «د افغان مالکیت پیاوړتیا» په نوم یادیږي، ښاري پراختیا او د ښارولۍ بیخبنا د افغانستان سره د آلمان د همکاری لپاره د لومړیتوب د یوه ډګر په توګه پیژندل شوی دی، چې دا مهال اوس دوه پروګرامونه لري: د ښاري اوبو رسولو سمونتیا او د فاضله اوبو مدیریت، او همدارنګه د بریښنا رسولو پراختیا. د دې یو مهم اړخ د اوبو او انرژۍ په سکټور کې د بنسټیزو چوکاټونو ته سمون ورکول دی. په دواړو پروګرامونو کې د تخنیکي او سازماني ظرفیتونو منځته راوړلو ته هم لومړیتوب ورکړل شوی تر څو د سیستمونو دوامداره فعالیت او ساتنه او څارنه، او په دې توګه د پانګوني پایښت تامین شي. په راتلونکي کې نور اقدامونه په پام کې دي چې هم د ښارولۍ او بنسټیزې بیخبنا د خدمتونو د سمون ورکولو او هم د ښاري حکومتولۍ او د ښارولۍ د پلان جوړونې د ظرفیتونو د کچې د لوړولو سره مرسته وشي. د نوموړو اقدامونو موخه هم په ښاري او هم په کلیوالي سیمو کې په پایښتونکې پراختیا کې د ونډې اخیستل دي.

### اوبه یعنی ژوند

اوبه په افغانستان کې یوه بارښته سرچینه ده چې د کرنیزو محصولاتو او د څښاک د اوبو په ډول د خلکو لپاره حیاتي ارزښت لري. سره له دې، په هیواد کې د ښاري اوسیدونکو شاوخوا یوه څلورمه برخه او د کلیوالي سیمو اکثریت اوسیدونکي تر اوسه هم د اوبورسونې یو سمون ورکړل شوي سیستم ته لاسرسی نلري. په تیره بیا

## د پروژې خبرونه

- په 2021 کال کې د افغانستان د نوي کیدونکې انرژۍ لپاره درې مهم ټکي
(https://www.ez-afghanistan.de/ps/news/5114
22.11.1399 | خبرونه

- له افغانستان سره د آلمان د همکارۍ د منۍ د موسم غوره خبرونه
(https://www.ez-afghanistan.de/ps/news/5080
27.08.1399 | خبرونه

- د آلمان حکومت د دوه اړخیزه همکاریو دوام او له COVID-19 سره د مبارزې لپاره له ۵.۷۷ ملیارده افغانۍ څخه زیات مالي مرسته کوي
(https://www.ez-afghanistan.de/ps/news/4939
22.03.1399 | خبرپاڼه

## اضافي معلومات

- Energy Sector Improvement Programme (ESIP) (https://www.ez-afghanistan.de/sites/default/files/FS_2019_ESIP_PA.pdf)
- North-Eastern Power Supply System (NEPS) (https://www.ez-afghanistan.de/sites/default/files/FS_2019_NEPS_PA.pdf)
- Electricity for Development (https://www.ez-afghanistan.de/sites/default/files/FS_

ښځې او ماشومان اغلباً مجبور دي چې د خپل ځان او خپلو کورنیو د پاره د څښاک د اوبو د په لاس راوړلو په موخه اوږده واټونه ووهي. په عین حال کې، افغانستان د اقلیم د بدلون څخه زښت زیات اغیزمن کیږي. له دې کبله، د اوبو سرچینې چې لږیدو په حال کې دي، د نفوس د چټکې ودې، د اوبو د نامناسبې کارونې، پراخه کرهنه او نورو له امله په زیاتیدونکي توګه تر فشار لاندې دي. په داسې شرایطو کې، د افغانستان د خلکو لپاره د څښاک د پاکو اوبو د دوامداري رسونې د تامین په موخه د اوبو د موجودو سرچینو ساتل ډیر اړین دی. په دې کار کې د کرنیزو او صنعتي موخو لپاره د اوبو د موجودو سرچینو اغیزمن مدیریت هم شاملیږي.

د اوبو د سکټور د سمونیتا پروګرام (WSIP) د تخنیکي همکارۍ د نوښتونو د یوې برخې په توګه هڅه کوي چې په ټاکل شویو مهمو وزارتونو کې نهادي چوکاټونه غښتلي کړي او همداراز د اوبو په اداره کې تخنیکي او اقتصادي ظرفیتونه لوړ کړي. دغه پروګرام د نورو پګړونو ترڅنګ، د افغاني ملګرو سره مرسته کوي ترڅو د خپلو هغو کارکوونکو د روزنې تخنیکي اړخونو ته سمون ورکړي چې د احداث او ساتنې او څارنې په کارونو کې بوخت دي. دغه پروګرام همدارنګه د افغان حکومت سره د سیند د حوضې او د اوبو د سرچینو د یوه اغیزمن سیستم په جوړولو کې مرسته کوي. برسیره پردې، د مالي همکارۍ موخه داده چې په کابل او نورو سیمه ایزو مرکزونو کې د اوبورسونې سیستمونه سمون ومومي او د ناولیو اوبو د مدیریت په اړه آزمایښتي اقدامونه روان دي. د المان حکومت د هیواد په پلازمینې کابل کې د ناولیو اوبو د غیرمتمرکز مدیریت د یوه ماسترپلان په جوړولو کې  هم مرسته کوي.

- 2019_Energy_North_Afghan istan_PA_0.pdf)
- Better Water Supply for Kabul (https://www.ez-afghanistan.de/sites/default/files/FS_2019_Water_Supply_Kabul_PA.pdf)
- Drinking Water for Northern Afghanistan (https://www.ez-afghanistan.de/sites/default/files/FS_2019_NC_Water_supply_north_Afghanistan_PA.pdf)
- Water Sector Improvement Programme (WSIP) (https://www.ez-afghanistan.de/sites/default/files/FS_2019_WSIP_PA.pdf)

## انرژي – د پراختیا کیلی

د برښنا د انرژۍ پاېمنه رسونه د اقتصادي ودې، بسیا روغتیایي څارنې او ښوونې او روزنې بنسټ جوړوي؛ په لنډه توګه، دا د پایښتونکي پراختیا د بنسټ ډبره ده. خو په افغانستان کې د برښنا د انرژۍ رسونه، په تیره بیا په کلي والي سیمو کې، اغلباً ناپاېمنه ده یا هیڅ په سترګو نه لیدل کیږي. ګران نرخونه، د برښنا تلل، د برښنا د ناویلیو سرچینو او نابسیا بیخبنا د برښنا رسونې د پایښت څخه مخنیوی کوي. په داسې شرایطو کې، شرکتونه نشي کولای په بسیا توګه برښنا تولید کړي، او له دې امله هیواد نشي کولای اقتصادي ودې ته چې ورته ډیره اړه لري ورسیږي. له همدې کبله د المان حکومت برښنا رسونې د یوه پایښتونکي سیستم د جوړولو په لاره کې د افغانستان د اقدامونو څخه د ۲۰۰۳ کال راهیسې ملاتړ کوي.

اوس مهال، د هیواد د نفوسو یوازې کابو یوه دریمه برخه د برښنا د انرژۍ سرچینو ته لاسرسی لري – عمدتاً په ښاري سیمو کې. په ظرفیت کې د کموالي او د برښنا

دغوښتني د ډېریدونکي زیاتوالي له امله افغانستان اړ دی چې د خپلې انرژۍ شاوخوا ۷۵ سلنه د پام وړ ناډاډمنو سیاسي شرایطو کې د بهر څخه وارد کړي چې دا کار هیواد اونډیو ته مهتاجوي. دې حالت کې د بدلون ورکولو په موخه، د المان حکومت د افغانستان سره هم د ملي برښنا د تولید د ظرفیتونو په پراخولو او هم د هغه د برښنا د شبکې سره مرسته کوي. دا کار ښاري او کلیوالي سیمو ته په شني برښنا رسوني باندې متمرکز دی او د خلکو د ژوند شرایطو او د اقتصادي ودې پوتنسیال ته په پایښتونکي توګه سمون ورکوي. له همدې امله، د نوې کیدونکي انرژۍ تولیدول، د برښنا د شبکې پراخول او د کورنیو اتصالاتو احداثول د مالي همکارۍ له لارې پیاوړي کیږي. د دې کار د بشپړولو په موخه، د «برښنا رسوني د پراخولو» په پروګرام کې د دولتي نهادونو او د افغانستان د برښنا شرکت د ملي اداري د ظرفیتونو د پیاوړتیا لپاره تخنیکي همکاري شتون لري. د نوې کیدونکي انرژۍ د تولید، د خصوصي سکتور د ګډون، او د ښووني او روزنې دپاره هم باید معیارونه او قواعد جوړشي تر څو د برښنا د تولید کارخانې په پایښتونکي توګه کار وکړي او ساتنه او څارنه ورځنۍ وشي او همدارنګه پانګونه غښتلې شي.

د ښاري پراختیا او ښارولۍ د بیخبنا په ډګر کې زمونږ د کار په باب د لازیاتو معلوماتو دپاره د پروژو توضیحاتو او د «کیسو» برخې ته مراجعه وکړی.

## زمونږ کار پدې برخه کې

**پاکه انرژي د پرمختګ د اړتیا په توګه**

د بریښنا منظمه رسونه هغه څه دي چې ډیرو لږو افغانانو ته بخښل شویدي. که څه هم افغان دولت د بریښنا د سکتور لپاره یو نوې ماسټر پلان پلي کوي او نوې کیدونکې انرژۍ لپاره ملي ستراتیژي لري، خو بیاهم، یواځې شاوخوا څلورمه برخه وګړي د بریښنا له شبکې سره نښتي دي.
(https://www.ez-afghanistan.de/ps/news/4720)

**د افغانستان شمال ته د بریښنا لېږدول**

د افغانستان ۷۰ سلنه وګړي باید عامه بریښنا ته له لاسرسي پرته ژوند وکړي. په هېواد کې یوازې ۱.۳ میلیونه کورنۍ د برېښنا له شبکې سره نښلول شوي دي، چې ډېری برخه یې په ښاري سیمو کې ده. له لس سلنې څخه لږ کلیوال وګړي بریښنا ته لاسرسی لري، که څه هم دا هغه سیمه ده چېرته چې درې برخې افغانان ژوند کوي.
(https://www.ez-afghanistan.de/ps/news/4722)

**بریښنا د پرمختګ لپاره**

افغانستان کې د ډېرو کورنیو او تصدیو لپاره، د بریښنا ډاډمنه رسونه د تصور وړ نه ده. د جمعیت یواځې ۳۰ سلنه برخه د بریښنا له شبکې سره تړلي دي، چې په نړیواله کچه د ټیټو کچو له ډلې څخه یوه ده. په ځانګړې توګه د افغانستان په شمال کې دغه

وضعیت خراب ده، چېرې چې یواځې یو څو ښارونه او کلي د برېښنا له شبکې سره تړلي دي.
(https://www.ez-afghanistan.de/ps/news/4721)

**کابل لپاره د اوبو ښه رسونه**

د روغتیا د نړېوال سازمان (WHO) د مالوماتو پر بنسټ، اوسمهال د افغانستان د ښاري جمعیت شاوخوا یواځې یو پر درېمه برخه او د کلیوال جمعیت پنځه سلنه برخه د څښاک د اوبو رسونې له منظمې شبکې سره تړلي دي. د کابل ښاروالۍ د اوبو رسونې شبکه شاوخوا د ۶۰۸۰۰ کورنیو کنکشنونه مدیریت کوي. د اوسنۍ زیربنا وضعیت هم ډېر کمزورې ده: د اوبو پایپ لاینونه، پمپ سټیشنونه او زیرمې، که چېرې شتون ولري، معمولاً ویجاړ شوي او شاوخوا ۳۰ سلنه اوبه د لیکۍ له امله ضایع کیږي.
(https://www.ez-afghanistan.de/ps/news/4723)

**د افغانستان د شمال لپاره د څښلو اوبه**

د څښلو پاکې اوبه د افغانستان د اوسیدونکو لپاره یوه لږه پیدا کیدونکې متاع ده. که څه هم د پاکو اوبو رسونه ښه شویده، خوبیاهم، د افغانستان جمعیت معمولا یواځې د څښلو ککړو اوبو ته لاسرسی لري، چې اکثراً کولرا، د محرقې د تبې او نس ناستې د ناروغیو لامل ګرځي.
(https://www.ez-afghanistan.de/ps/news/4739)

**د اوبو او فاضله اوبو پایښتونکئ مدیریت**

اوبه د افغانستان په ډېرو ښاري او کلیوالي سیمو کې د نادره شیانو څخه ګڼل کیږي. پداسې حال کې چې افغانستان په دې وروستیو کلونو کې د اوبو رسولو د پراخولو په لاره کې لوی ګامونه اخیستي دي، د ښاري خلکو اکثریت لاهم د څښاک پاکو اوبو ته لاسرسی نلري. د کلیو اوسیدونکي د څاګانو او ویالو څخه اوبه راوباسي یا یې باید د اوبو له ټانکرونو څخه وپیري. د اوبو د لړوالي په وړاندې دغه سرچینې په زیاتیدونکي توګه له حد نه زیات کارول کیږي او د ککړتیا سره مخ کیږي.
(https://www.ez-afghanistan.de/ps/news/4742)